**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د حزب التحرير- امریکا یو پلاوي زموږ د خویندو رومانې او روشن د نیولو په تړاو په واشنګټن کې د پاکستان سفارت ته دوه مطبوعاتي اعلامیې وسپارلې



**(ژباړه)**

د حزب التحرير- امریکا یو پلاوي زموږ د خویندو رومانې، روشن او د روشن د خاوند د تښتولو په تړاو، په دې جرم چې د اسلام د حاکمیت له لارې یې د مسلمانانو د عزت لپاره فعالیت کاوه، د پاکستان سفارت ته دوه مطبوعاتي اعلامیې وسپارلې... هغوی د الله سبحانه وتعالی دغه قول هېر کړی دی او یا داسې ښيي چې هېر کړی یې دی:

**﴿إِنَّ الَّذِينَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوبُوا فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيقِ﴾**

[بروج: 10]

***ژباړه:*** *له شک پرته هغه څوک چې د الهي دین د پرېښودلو لپاره مومن نارینه او مومنې ښځې شکنجه کوي او وروسته توبه نه کوي او پر خپلې کړنې نه پښېمانه کېږي، خامخا به د دوزخ په اور کې لوېږي او همدارنګه د هغوی لپاره سوځوونکی اور تیار شوی دی.*

او همدارنګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه قول:

**«إِنَّ اللَّهَ قَالَ مَنْ عَادَى لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ»**

(رواه البخاری)

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی فرمایي: هغه څوک چې زما له ولي سره دښمني وکړي، زه له هغه سره د جګړې اعلان کوم.*

له الله سبحانه وتعالی څخه غواړم چې زموږ د خویندو هرې یوې رومانې او روښن او  زموږ د ورور نوید بټ چې څو کاله مخکې تښتول شوی ستونزه حل او لرې کړي له زندانو ازاد شي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۳۹هـ.ق، د ذوالحجې ۱۹مه**

**۲۰۱۸م، د اگست ۳۰مه**